د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت
Deputy PM for Economic Affairs Office
د مطبوعاتو رياست





- د هېواد شمالي ولايتونو ته د رياست الوزراء د اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند څلور ورځنی سفر
- د طوطي ميدان د ګازي ساحو د څېړنې او استخراج پروژې چارې پيل شوې
- څلور کلن مزل؛ لاسته راوړنې او پرمختګونه (۲مه برخه)
- FOUR-DAY VISIT OF MULLAH ABDUL GHANI BARADAR AKHUND TO THE NORTHERN PROVINCES

افغانستان له پخوا راهيسې پر بهرنيو وارداتو متکي دی او زموږ د ملي بوديجې زيات رقم د وارداتو په مقابل کې ورکول کېږي، په داسې حال کې چې له بهر واردېدونکي توکي له يوې خوا قيمتي تماميږي او له بلې خوا پايداره او ډاډمنه سرچينه نه ګڼل کېږي. له همدې امله د هېواد په داخل کې د توليد پروژې کولی سي، چې په تدريجي توګه پر بهرنيو وارداتو زموږ اتکا راکمه کړي او د يو توليدي افغانستان پر لور ګامونه واخلو.

الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند

# اباداي مياشتنی

# ABAADI

۶ ګڼه
سنبله- ۱۴۰۴ هـ.ش
پرله‌پسې ۲۱ مه ګڼه

@FDPM_AFG
dpmea.gov.af
@FDPM_AFG

درياست الوزراء اقتصادي معاونيت
Deputy PM for Economic Affairs Office
د مطبوعاتو رياست


بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام
على سيدنا محمد وآله وصحبه أجمعين

# ابادي
میاشتنی


۶ گـــڼه
سنبله - ۱۴۰۴ هـ.ش
پرله‌پسې ۲۱مه گڼه

**د امتیاز خاوند:** د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

**کتنپلاوی:** مولوي عبدالله عزام، مولوي ذبیح الله ناصر، امان الله حنیفي
فضل ولي شیراني او نجیب الله مایار

**مسئول مدیر:** مولوي خالق داد تقي

**ډیزاینر:** عطاءالرحمن سعید

**فوټوژورنالیست** حجت الله قاضي زاده



مرمرینه ماڼۍ، ملک اصغر څلورلارې، کابل

0202107500

media@dpmea.gov.af

dpmea.gov.af



د مجلې له مقالو او انځورونو څخه ګټه اخیستنه د سرچینې په ذکر کولو سره جواز لري.

استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مآخذ مجاز است.

# لړلیک


سـرلـیـکـنـه ۱

غـونـډې ۲ - ۷

اقتصادي پروژې، لیدنې کتنې او انفوګرافیکونه ۸ - ۱۹

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال سفرونه ۲۰ - ۲۷

د اقتصادي موضوعاتو اړوند مقالې ۲۸ - ۳۲

English Section 1 - 2



# سرلیکنه

د ترسره شویو سروې ګانو له مخې د افغانستان د کانونو ارزښت مېلیاردونو ډالرو ته رسېږي؛ خو په افغانستان کې اوږدمهاله ناخوالو د دې کانونو د استخراج مخه نیولې وه. افغانستان د بېلا بېلو کاني زیرمو ترڅنګ د ګازو پراخې زیرمې لري چې لا تر اوسه نه دي سپړل شوې او هماغسې تر خاورو لاندې پرتې دي. د افغانستان تیرو حکومتونو د دې پرځای چې ترځمکه لاندې له خپلې شتمنۍ څخه ګټه پورته کړي، د افغانستان د آبادولو او پرمختګ له پاره یې د نورو لمن نیولې او هغوی ته یې لاسونه اوږده کړي وو. که چېرې د افغانستان طبیعي زیرمې د حکومتونو تر چتر لاندې په تخنیکي او قانوني ډول راسپړل شوې وای، د نورو د ګټو خوندي کولو پرځای خپلې ملي ګټې پالل شوې وای؛ نو اوس به افغانستان نه له اقتصادي ستونزو کړېده او نه به یې ملت له بدې ورځې سره مخ و. اما اسلامي امارت د تېرو حکومتونو برعکس په افغانستان کې یو قوي او مرکزي نظام رامنځته کړ، د څلورو لسیزو ناخوالو ته یې پای ورکړ، امنیت یې ټینګ او د هېواد د مخ پر ځوړ اقتصاد د پیاوړتیا او د هېواد د بیارغونې له پاره یې د خپلو کورنیو عوایدو پرمټ خپلې هلې ځلې پیل کړې. د افغانستان تر ځمکه لاندې شتمني چې طبیعي زېرمې او کانونه دي، په قانوني او مسلکي ډول یې د استخراج چارې پیل شوې دي. په دې برخه کې یو بل ستر ګام د ۱۴۰۴ لمریز کال د سنبلې میاشتې په ۲۳مه نېټه د طوطي میدان د ګازي ساحو د څېړنې او استخراج پروژې د عملي چارو پیل و. په یادو مراسمو کې د بلخ ولایت په مرکز مزارشریف کې جوړ شوي و، د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، په دې سره به زیات شمېر هېوادوالو ته کاري فرصتونه برابر، په کور دننه به د ګازو اړتیا تر ډېره حده پوره، په وارداتي ګازو او برېښنا به د هېواد تکیه راکمه او په تدریجي ډول به بهر ته د ګازو د صادرولو زمینه مساعده شي. په دې سره به د سوداګرۍ انډول تر یوې کچې برابر او په لویه کې به د هېواد د اقتصادي ودې په برخه کې مهم رول ولوبوي. افغانستان د سوداګرۍ غیر متوازن بیلانس لري، د صادراتو په پرتله یې واردات زیات دي او یو عمده دلیل یې دا دی چې په کور د ننه د تولید کچه کمه ده. د یادو زېرمو د استخراج په پیل سره به په مجموعي ډول په هېواد کې د ننه د ګازو د استخراج کچه زیاته شي چې تر ډېره به د هېوادوالو اړتیاوې په مناسب او ارزانه قیمت سره پوره کړي. د یادو زېرمو د اکتشاف او استخراج په پیل سره به بهر ته د ګازو د وارداتو له امله د هېواد د اسعارو د وتلو مخنیوی وشي. بله دا چې د طوطي میدان د ګازي ساحو د څېړنې پیل او نورو مختلفو سکټورونو کې پانګونې سره به ډېرو کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته دا ثابته شي چې افغانستان اوسمهال د پانګونې له پاره خوندي او امن ځای دی. په دې سره به افغانستان وکولای شي چې د کانونو ترڅنګ په بېلا بېلو برخو کې د کورنۍ پانګې ترڅنګ بهرنۍ پانګه هم را جلب کړي. د ګازو په استخراج او پانګې په جذبولو سره به افغانستان پر دې وتوانیږي چې خپل ملي اقتصاد پر خپلو پښو ودروي.



د اقتصادي کمېسیون، ملي تدارکاتو
کمېسیون او پانګونې بین الوزارتي کمېټو

# غونډې

# د منرالونو د ملي پالیسۍ مسوده تایید شوه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د سنبلې میاشتې په دوهمه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. غونډې ته د کانونو او پېټرولیم وزارت له لوري د منرالونو د ملي پالیسۍ مسوده د بحث لپاره وړاندې شوه.

د اقتصادي کمېسیون له لوري تر هراړخیزې ارزونې وروسته د منرالونو د ملي پالیسۍ مسوده تایید شوه. د دې پالیسۍ موخې په معیاري توګه د کانونو تفحص، اکتشاف او ګټه اخیستنه؛ د کورنیو او بهرنیو پانګوالو جذب او د کان کیندنې نوې ټکنالوژۍ او تجهیزاتو واردول؛ د چاپېریال ساتنې او د کان کیندونکو د روغتیا او خوندیتوب ډاډمنول؛ په هېواد کې دننه د کاني موادو پروسس ته زمینه برابرول او د کانونو سکټور لپاره د متخصصو او تخنیکي بشري سرچینو روزل او د ظرفیت لوړول دي.

د اقتصادي کمېسیون په دې غونډه کې له شبرغان څخه تر دښت الوان پورې د ۵۰۰ کیلو ولټ انتقالي مزي غځولو پروژې د پاتې چارو د بشپړولو قرارداد په حجم کې د تعدیل راوستلو په اړه هم بحث وشو. له مفصل بحث وروسته په یاد قرارداد کې لازم تعدیل راوستل شو. همدا راز دې غونډې ته د کمال خان بند د دویم فاز (قلعه افضل بند) د امکان سنجۍ د لومړنیو مطالعاتو او د هېواد په بندرونو کې د اړتیاوو معلوملو په موخه ټاکل شوو کمېټو هم خپل راپورونه وړاندې کړل.

یادې پرېکړې د نهایي تصمیم نیونې په موخه د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله تعالی دفتر ته واستول شوې.



# طرح اعمار مارکیت تجارتی
## در ولایت جوزجان قابل تأیید شناخته شد

جلسه نوبتی کمیتهٔ سرمایه گذاری بین الوزارتی به تاریخ ۱۱ سنبله ۱۴۰۴ خورشیدی در قصر مرمرین برگزار گردید. طبق اجندا، به این جلسه طرح اعمار مارکیت تجارتی در شهر شبرغان مرکز ولایت جوزجان، بر زمین شاروالی ارائه شد. بر بنیاد این طرح، سکتور خصوصی در مساحت ۲۲۰۰ متر مربع زمین شاروالی، یک مارکیت تجارتی پنج منزله اعمار می نماید که در آن دوکان‌ها و پارکینگ وسایط در نظر گرفته شده است. این طرح از سوی کمیتهٔ سرمایه‌گذاری بین‌الوزارتی با وارد نمودن برخی تعدیلات قابل تأیید دانسته شد و به‌منظور تصمیم نهایی به کمیسیون اقتصادی راجع گردید.

در جلسه کمیتهٔ سرمایه گذاری بین‌الوزارتی همچنان طرح‌های دیگری نیز از سوی سکتور خصوصی ارائه گردید؛ این طرح ها شامل ایجاد فابریکهٔ تولید وسایل و تجهیزات برقی در داخل کشور، اعمار مارکیت از سوی سکتور خصوصی بر زمین وزارت امور داخله در ولایت جوزجان و طرح سرمایه‌گذاری یک شرکت خصوصی در شهر کابل جدید بودند.

پس از بحث همه‌جانبه، به ادارات مربوط وظیفه سپرده شد تا این طرح‌ها را به‌صورت همه‌جانبه بررسی نموده و گزارش شان را در وقت معین با کمیتهٔ سرمایه گذاری بین الوزارتی شریک سازند.



## به سرمایه‌گذاران اعمار کننده سردخانه‌ها معافیت مالیاتی پنج ساله داده می‌شود

به ریاســت محترم ملا عبدالغنی بــرادر آخند، معاون اقتصــادی ریاســت‌الوزراء، در جلســه کمیسـیون اقتصادی، طرح ســاخت سردخانه و کارخانه در زمین وزارت زراعت، آبیــاری و مالداری در مرکز ولایت غزنی تائید گردید. افغانســتان یک کشور زراعتی است، اما نبود سردخانه‌ها و همچنان وضع تعرفه‌های موسمی بر محصولات زراعتی از سوی کشورهای همسایه و بستن راه‌هــای تجارتی، اقتصاد ملی، محصــولات زراعتی و دهقانان کشور را با زیان‌های مالی روبه رو ساخته است. به‌منظــور جلوگیری از این مشــکلات، به هر شرکت یا متشبث انفرادی که در بخش ایجاد سردخانه‌ها سرمایه گذاری نماید، پنج سال معافیت مالیاتی داده می شود.

## د معدني موادو د پروسس او صادراتو پالیسۍ مسوده تایید شوه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د سنبلې میاشتې په ۲۹مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. دې غونډې ته د کانونو او پټرولیــم وزارت له لوري د معدني موادو د پروســس او صادراتو پالیسۍ مسوده د بحث لپاره وړاندې شوه، چې له هراړخیز بحث وروسته تایید شوه. د دې پالیسۍ موخه د ملي او نړیوالو معیارونو پر اساس د معدني موادو پروسس تــه زمینه برابرول؛ په هېواد کې دننــه د معدني موادو د پروسس په برخه کې د کورنۍ او بهرنۍ پانګونې جذب؛ د اړوندو ادارو ترمنځ د معدني موادو د پروســس او صادراتو لپاره د ښې همغږۍ رامنځته کول؛ د سیمې او نړۍ بازارونو ته د معدني موادو د سوداګرو اسانه لاسرسی او په هېواد کــې د کاري فرصتونو رامنځته کول دي. همداراز دې غونډې ته د هېواد په مهمو بندرونو کې د لابراتواري کمپلکس طرحې د څېړلو په موخه د ټاکل شوې کمېټې راپور هم وړاندې شــو، چې له هراړخیزې ارزونې وروسته تایید شو. په دغه لابراتواري کمپلکس کې د ۹ وزارتونو او ادارو لپاره تاسیسات په نظر کې نیول شوي او هر لابراتوار به پــه ۴۰ جریبه ځمکــه کې جــوړ شي. د اقتصادي کمېسیون په دې غونډه کې پر یوشمېر نورو موضوعاتو هم بحث وشو، چې په اړه یې لازم تصامیم ونیول شول. یادې پرېکړې د نهایي تصمیم په موخه د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه‌الله تعالی دفتر ته واستول شوې.



# د افغانستان اسلامي امارت اقتصادي پالیسي منظور شوه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون له لوري د افغانستان اسلامي امارت اقتصادي پالیسي تایید او د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی له لوري منظوره شوه. دغه پالیسي (پر اسلامي اقتصادي نظام ولاړ پرمختللی او سوکاله افغانستان) لیدلوری او (د پانګونې د جذب او پراختیا لپاره د مناسب چاپېریال رامنځته کول؛ د کورنیو تولیداتو او صادراتو زیاتول؛ د اشتغال کچې لوړول او د بې‌وزلۍ کمول؛ پایداره اقتصادي پراختیا او وده؛ د اقتصادي ثبات، سوکالۍ او اسلامي ټولنیز عدالت ټینګښت) اساسي موخې دي. اقتصادي پالیسي به د هېواد د اقتصادي فعالیتونو په همغږي کولو، له منابعو څخه د غوره ګټې اخیستنې او د خصوصي سکټور د ملاتړ په برخه کې مهم رول ولري.

# اورانوس د ودونو د تالار قرارداد فسخه شو

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ اقتصادي کمېسیون پرېکړه وکړه، چې د اورانوس د ودونو تالار او پارکېنګ شته قراردادونه دې فسخه او یاده ساحه دې د قیمتي او نیمه قیمتي ډېرو مارکېټ ته ځانګړې شي. د خلیج د ودونو تالار او ممتاز محل د ودونو تالار دې د قراردادونو د مودې تر پای ته رسېدو وروسته د کابل ښاروالي له اصولو سره سم کړنې ترسره کړي. همدا راز د نظیف مارکېټ، علاوالدین درې لارې د تېلو ټانګ او ظاهر شاهي مارکېټ ازادې داوطلبۍ ته وړاندې شوي او اوسمهال له نویو مستاجرینو څخه کرایه اخیستل کېږي. دغه پرېکړه د عالیقدر امیر المؤمنین شیخ صاحب حفظه الله تعالی له لوري تایید شوې ده.



# کمیسیون تدارکات ملی شش پروژه به ارزش ۳.۸ میلیارد افغانی را منظور نمود

جلسه نوبتی کمیسیون تدارکات ملی به ریاست محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء بتاریخ، ۳۰ سنبله ۱۴۰۴ در قصر مرمرین برگزار شد. طبق اجندا، در این جلسه ۳۰ پروژه برای منظوری ارائه شد. پس از بحث و بررسی، ۲۰ پروژه با وارد نمودن یک سلسله تعدیلات و شش پروژه به ارزش ۳.۸ میلیارد افغانی منظور گردید.

علاوه بر این، به کمیته‌ای موظف وظیفه سپرده شد، تا در مورد قیمت چهار پروژه با شرکت‌های برنده مذاکره نموده، گزارشی را به رهبری کمیسیون تدارکات ملی ارائه دهد.

در پروژه‌های منظور شده تکمیل کارهای باقیمانده شفاخانه ۲۰۰ بستر در ولایت کنر، ساخت سردخانه با ظرفیت ٦٠٠ متریک تُن در ولایت پکتیکا، ساخت سرک ۲۵ کیلومتر از شهر میمنه الی ولسوالی فردوس ولایت فاریاب و تکمیل کارهای باقیمانده پروژه‌های تامین و توزیع برق در ولایت‌های مختلف شامل است. پروژه‌های منظور شده از سوی امارت اسلامی افغانستان تمویل می‌شوند.





# اقتصادي پروژې

## ليدنې کتنې او انفوگرافيکونه



# د ۹۴۰۷ مېګاواټه په ظرفیت

## د برېښنا تولید تفاهمنامې او قراردادونه لاسلیک شول

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د سنبلې میاشتې په ۱۵مه نېټه په انټرکانټیننټال هوټل کې د پانګونې جذب او د افغانستان د برېښنا سکټور ملاتړ کنفرانس کې د افغانستان برېښنا شرکت او یوشمېر پانګوالو شرکتونو ترمنځ د ۹۱۲۳ مېګاواټه په ظرفیت د برېښنا تولید او برېښنايي زېربناوو جوړولو تفاهمنامې او د ۲۸۴ مېګاواټه په ظرفیت د برېښنا تولید قراردادونه لاسلیک شول.

پردې سربېره د ازبیکستان او د افغانستان برېښنا شرکت ترمنځ هم د ۲۵۰ میلیون ډالرو په پانګونې د سرخان پلخمري ۵۰۰ کیلو ولټ برېښنا مزي غځولو، د دښت الوان سب سټېشن پراختیا، د ارغندی سب سټېشن پراختیا او همداراز تر شیخ مصري سب سټېشن پورې د ۲۲۰ کیلوولټ برېښنا مزي غځول او د دغه سب سټېشن پراختیا پروژو عملي چارې هم پیل شوې.

# د طوطي میدان د ګازي ساحو د څېړنې او استخراج پروژې چارې پیل شوې

د ریاســـت‌الوزراء اقتصـــادي مرســـتیال مـــحترم ملا عبدالغنـــي برادر اخونـــد د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د سنبلې میاشتې په ۲۳مه نېټه د طوطي میدان د ګازي ساحو د څېړنې او اســـتخراج پروژې د عملي چارو په پرانیست‌غونډه کې ګډون وکړ.
د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د دغه ګازي ساحو د عـــملي چارو پیل د پانګونې پـــه برخه کې مهم ګام وباله او ویې ویل، په داســـې لویـــو او مهمو پروژو کې پانګونه ټولو هېوادونو او پانګوالو ته واضح پیغام ورکوي چې په افغانســـتان کـــې امنیت تأمیـــن او د هر ډول پانګونو لپاره ښـــه زمینه مساعده ده. د هغه په خبره، د افغانستان اسلامي امارت د اقتصاد محوره سیاست له مخې د ممکنه اســـانتیاوو په برابرولو سره ټولو پانګوالو ته ښه راغلاست وایي او ملاتړ یې کوي.
محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، په دې سره به زیات شمېر هېوادوالو ته کاري فرصتونه برابر، په کور دننـــه به د ګازو اړتیا تر ډېره حده پوره، په وارداتي ګازو او برېښنا به د هېواد تکیه راکمه او په تدریجي توګه به بهر ته د ګازو د صادرولو زمینه مساعده شي. د محترم ملا صاحب په خبره، په دې سره به د سوداګرۍ انډول تر یـــوې کچې برابـــر او په لویـــه کې بـــه د هېواد د اقتصادي ودې په برخه کې مهم رول ولوبوي.
د ریاســـت‌الوزراء اقتصادي مرستیال یو ځل بیا پر ټولو کورنیو او بهرنیو پانګوالو او ســـوداګرو غږ وکړ، چې په افغانستان کې پانګونه وکړي او د دې هېواد له نسبي مزیتونو ګټه واخلي.
په پای کې محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د طوطي میدان ګازي ساحو د څېړنې او استخراج له قراردادي شرکت څخه وغوښتل چې خپل کارونه د ټولو معیارونو او اصولو په پام کې نیولو سره په ښه ډول ترسره کړي.



# د عزيزي انرژي گروپ له لوري د لس زره مېگاواټه برېښنا توليدي پروژې د لومړي فاز عملي چارې ژر پېلېږي

د رياستالوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د سنبلې مياشتې په پنځمه نېټه په خپل کاري دفتر کې د هېواد له ملي سوداگر او د عزيزي انرژي گروپ شرکت له عمومي رييس ميرويس عزيزي او د هغه له تخنيکي ټيم سره وکتل. د دې ليدنې پرمهال د ميرويس عزيزي د لس زره مېگاواټه پروژې د چارو د پرمختگ راپور د رياستالوزراء اقتصادي مرستيال ته وړاندې کړ. ښاغلي عزيزي وويل، د تفاهمنامې له لاسليک وروسته يې خپل ټيمونه د اړوندو وزارتونو د تخنيکي ټيمونو سره يوځای بغلان، بلخ، جوزجان، هرات او باميان ولايتونو ته وليږل، چې د تېرو شاوخوا دوه اوونيو په جريان کې يې د يوشمېر پروژو ابتدايي سروې ترسره او تخنيکي معلومات يې راټول کړي دي. نوموړي زياته کړه، د لس زره مېگاواټه برېښنا د توليد پروژه يې په درېيو فازونو وېشلې ده، چې لومړی فاز يې د څلور زره مېگاواټه برېښنا ظرفيت لري. د عزيزي انرژی گروپ شرکت مسوولينو د معلوماتو پر اساس، په لومړي فاز کې د موجودو پروژو عملي چارې به له اړوندو وزارتونو او ادارو سره په گډه ژر پيل کړي. ښاغلي عزيزي په دې اړه خپلې غوښتنې هم د رياستالوزراء له اقتصادي مرستيال سره شريکې کړې.

د رياستالوزراء اقتصادي مرستيال او د اړوندو وزارتونو او ادارو مسوولينو د يادو غوښتنو د پوره کولو پوره اطمينان او ډاډ ورکړ. د غونډې په پای کې د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د هدايت پر اساس د اړوندو وزارتونو او ادارو او عزيزي انرژي شرکت له استازو څخه گډه کمېټه جوړه او دنده ورته وسپارل شوه، څو د لس زره مېگاواټه برېښنا د توليدي پروژو د کارونو تعقيب او نظارت ترسره او راپور يې د رياستالوزراء اقتصادي معاونيت له محترم مقام سره وخت په وخت شريک کړي.



# د لغمان شاهي کانال

## د لومړي فــاز د لومړي لاټ د جوړېدو چارې ۱۲ سلنه بشپړې شوې

د لغمان شاهي کانال د دوو فازونو په لرلو سره ۷۰ کیلومتره اوږدوالی لري چې لومړی فاز یې د څلورو لاټونو په درلودلو سره ۳۲ کیلومتره اوږدوالی لري.
د افغانستان اسلامي امارت د اوبو او انرژۍ وزارت له لوري د ۱۴۰۳ لمریز کال په سنبله میاشت کې د لغمان شـــاهي کانال د لومړي فاز د لومړي لاټ عملي چارې پیل شوې چې اوسمهال یې ۱۲ سلنه پرمختګ کـــړی دی. د لومړي فاز لومړی لاټ ٦.٦ کیلومتره اوږدوالی او د پنځه زره هکتاره ځمکې د خړوبولو وړتیا لري.
د لـــغمان شـــاهي کال پـــه لومړي فـــاز چې ۳۲ کیلومتره اوږدوالی لري، په مجموعي ډول ۵۰ میلیون ډالره لښـــګت راځي، چې چارې به یې په دوو کلونو کې بشـــپړې شي. پـــه دې کانال کې اوســـمهال په سلګونو هېوادوالو ته د کار زمینه هم برابره شوې ده.
د لغمان شـــاهي کانال د لغمان ولایت د الینګار ولسوالۍ د سندروا ســـیمې څخه سرچینه اخلي چې د الینګار په ګــډون د مرکز مهترلام بابا څخه تېرېږي او د قرغیو ولســـوالۍ اړوند د سرخکان په سیمه کې پای ته رسیږي. لغمان شاهي کانال په یـــوه ثانیه کې د ۲۱.۵ متر مکعب اوبو د لېږد وړتیا لـــري چې د چارو په بشـــپړېدو سره به یې ۲۰ زره هکتاره کرنیزه ځمکه خړوبه کړي.



# کار اعمار جاده از میدان هوایی الی چهار راهی گمرک ۸۰ درصد تکمیل شده است

تیم تخنیکی معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء به تاریخ ۲۶ سنبله ۱۴۰۴ خورشیدی، کار پروژه جاده‌ای که از چهارراهی میدان هوایی الی گمرک امتداد دارد را از نزدیک بررسی کرد. تیم تخنیکی معاونیت اقتصادی، کارهای انجام شده توسط شاروالی کابل و شرکت قراردادی را طبق پلان و دیزاین، ستود و از شرکت قراردادی خواست که کارهای باقیمانده را در مدت زمان تعیین شده با در نظر داشت تمام معیارها به پایان برساند.

مسؤلین شرکت قراردادی از مسؤلین معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء و شاروالی کابل به خاطر رسیدگی به موقع به مشکلات و خواسته های اشان تشکر نموده، اطمینان دادکه کارهای باقی مانده را با کیفیت خوب و در زمان تعیین شده به پایان خواهند رساند.

جاده‌ای که از چهارراهی میدان هوایی الی گمرک امتداد دارد، ۲.۷ کیلومتر طول و ۶۰ متر عرض دارد که در حال حاضر ۸۰ درصد کار آن به پایان رسیده و کار باقیمانده در سه ماه آینده تکمیل خواهد شد.

این جاده دارای دو جاده اصلی برای رفت و آمد، پیاده روها و جویچه ها در دو طرف جاده، پنج گلدان، علایم ترافیکی و تمام اجزای یک جاده معیاری دارد که پس از تکمیل شدن این جاده ازدحام ترافیکی در شهر کابل کاهش خواهد یافت، تسهیلاتی را برای تردد وسایل نقلیه مسافربری و باربری از ولایات شرقی به شمال کشور ایجاد می‌کند و شهر را به شکل معیاری در می آورد. در مجموع ۴۰۷ میلیون افغانی برای این جاده هزینه خواهد شد که از بودجه شاروالی کابل پرداخت می شود.

قابل یادآوریست که کار ساخت این سرک به تاریخ هشتم ثور ۱۴۰۳ خورشیدی از سوی محترم ملا عبدالغنی برادر آخند، معاون اقتصادی ریاست الوزراء افتتاح شده بود.



# د خیرخانې کوتل سړک د دوهم لاټ چارې ۶۲ سلنه بشپړې شوې دي

د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت تخنیکي ټیم د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د سنبلې میاشتې په ۲۶مه نېټه د خیرخانې کوتل سړک د دوهم لاټ پروژې چارې له نږدې وڅارلې. د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت تخنیکي ټیم له دې پروژې د څارنې پرمهال د قراردادي شرکت مسوولینو ته سپارښتنه وکړه، څو په دغه پروژه کې د سړک جوړونې تخنیکي معیارونه او کیفیت په پام کې ونیسي او د پلان مطابق یې چارې په ټاکلي وخت بشپړې کړي. هغوی له خپل لوري د قراردادي شرکت مسوولینو ته د هر ډول همکارۍ او ملاتړ ډاډ ورکړ. د قراردادي شرکت مسوولینو د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت تخنیکي ټیم ته اطمینان ورکړ چې د ټولو معیارونو په پام کې نیولو سره به یې کارونه د ژمي تر را رسېدو مخکې بشپړ کړي. د قراردادي شرکت رئیس وویل چې د دې پروژې له پاره دوی ته د قرارداد مطابق شل کاري میاشتې وخت ورکړل شوی دی. تر دې مهاله شپاړس کاري میاشتې پوره شوې او څلور میاشتې لا پاتې دي. د هغه په خبره، دوی به له پلان سره سم په دغو څلورو میاشتو کې د پروژې ټولې چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته به یې وسپاري. د خیرخانې کوتل سړک دوهم لاټ ۲.۵ کیلومتره اوږدوالی او ۶۰ متره سور لري، چې اوسمهال یې ۶۲ سلنه چارې بشپړې شوې دي. دغه سړک د هېواد ۱۴ شمالي ولایتونه له کابل ښار سره نښلوي، چې د اساسي سړک ترڅنګ دواړو لورو ته پلې لارې او لښتې، ګلدانونه، ترافیکي نښې او د یو معیاري سړک ټولې برخې لري. د دغه سړک د چارو په بشپړېدو سره به په کابل ښار کې ترافیکي ګڼه ګوڼه او د ترافیکي پېښو کچه راټیټه شي، هېوادوالو ته به د تګ راتګ پرمهال اسانتیاوې برابرې او معیاري ښاري ترانسپورټ به پراختیا ومومي. پر دغه سړک ټولټال ۳۹۱ میلیونه افغانۍ لګښت راغلی چې د کابل ښاروالۍ له بودیجې ورکول کېږي.

د یادونې وړ ده چې د دغه سړک چارې د تېر ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په اتمه نېټه د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري پرانیستل شوې وې.



# له قمبر څلورلارې تر خیرخانې کوتل د غځېدلي سړک چارې ۹۵ سلنه بشپړې شوې دي

د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت تخنیکي ټیم د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د سنبلې میاشتې په ۲۶مه نېټه له قمبر څلورلارې تر خیرخانې کوتل د غځېدلي سړک چارې له نږدې وڅارلې. د اقتصادي معاونیت تخنیکي ټیم د کابل ښاروالۍ له لوري د دغه پروژې د ترسره شوو کارونو ستاینه وکړه او دغه پروژه یې د ښاري ترانسپورټ د تنظیم او ښاري پراختیا په برخه کې مهمه وبلله. د کابل ښاروالۍ مسوولینو د اقتصادي معاونیت تخنیکي ټیم ته ډاډ ورکړ چې د دغه سړک پاتې چارې به په نږدې راتلونکې کې بشپړې او ګټې اخیستنې ته به یې وسپاري. د کابل ښاروالۍ مسوولینو وویل چې د دې پروژې له پاره دوی ته د قرارداد مطابق یو کال او اته میاشتې وخت ورکړل شوی او د قرارداد موده لا څلور میاشتې پاتې ده. د دوی په خبره، له پلان سره سم به په دغو څلورو میاشتو کې د پروژې ټولې چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته به یې وسپاري. له قمبر څلورلارې تر خیرخانې کوتل غځېدلی سړک ۷.۶ کیلومتره اوږدوالی او ۳۰ متره سور لري، چې اوسمهال یې ۹۵ سلنه چارې بشپړې شوې دي. دغه سړک د تګ راتګ لپاره دوه اساسي سړکونه، دواړو لورو ته پلې لارې او لښتې، ګلدانونه، ترافیکي نښې او د یو معیاري سړک ټولې برخې لري. د دغه سړک په جوړېدو سره د کابل ښار په شمالي سیمه کې ترافیکي ګڼه ګوڼه د پام وړ راکمه شوې، له شمالي ولایتونو څخه د سوداګریزو توکو باروړونکو او مسافر وړونکو موټرونو ته د پام وړ سهولتونه رامنځته شوي او ترافیکي پېښې کمې شوې دي. پر دغه سړک ۴۵۰ میلیونه افغانۍ لګښت راغلی چې د کابل ښاروالۍ له بودیجې ورکړل شوې دي. د یادونې وړ ده چې د دغه سړک چارې د تېر ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په اتمه نېټه د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري پرانیستل شوې وې.



# محترم ملا عبدالغنی برادر آخند در کنفرانس جذب سرمایه‌گذاری و حمایت از سکتور برق افغانستان اشتراک نمود

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند، معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء، به تاریخ ۱۵ سنبله ۱۴۰۴ خورشیدی در کنفرانس تحت عنوان، جذب سرمایه‌گذاری و حمایت از سکتور برق افغانستان اشتراک و سخنرانی نمود.

معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء در مراسم افتتاح این کنفرانس که در هوتل انترکانتیننتال برگزار شده بود گفت، خوشبختانه افغانستان برای سرمایه‌گذاری‌های بزرگ، متوسط و کوچک ظرفیت‌های گسترده و فراوان دارد و به دلیل داشتن ذخایر کافی مواد خام تولیدی، کشور غنی محسوب می‌گردد. محترم ملا صاحب افزود ، افغانستان علاوه بر سایر منابع، دارای منابع وسیع برق آبی، بادی و آفتابی است و استفادهٔ مؤثر از این منابع، نه تنها افغانستان را در عرصهٔ برق به خودکفایی می‌رساند؛ بلکه ظرفیت صادرات انرژی به کشورهای دیگر را نیز فراهم می‌سازد. معاون اقتصادی ریاست الوزراء برگزاری این کنفرانس را برای معرفی فرصت‌های سرمایه‌گذاری در سکتور برق، جذب سرمایه‌گذاران داخلی و خارجی، بررسی چالش‌ها و ارائهٔ راه حل های مناسب و بحث‌های همه‌جانبه، مهم دانست و ابراز امیدواری کرد که این کنفرانس با دستاوردهای عملی و قابل تطبیق به پایان برسد. در پایان، محترم ملا عبدالغنی برادر آخند از همه کشورها، جامعهٔ جهانی و نهادهای مالی بین‌المللی خواست تا به محدودیت‌های مالی و بانکی وضع‌شده بر افغانستان پایان دهند. به گفتهٔ او این محدودیت‌ها روند سرمایه‌گذاری خارجی را در افغانستان متأثر ساخته که به سود افغانستان، منطقه و جهان نیست.

قابل یادآوریست که در کنفرانس تحت عنوان «جذب سرمایه‌گذاری و حمایت از سکتور برق افغانستان» ، اعضای کابینهٔ امارت اسلامی افغانستان، وزرای انرژی ازبیکستان و ترکمنستان، نمایندگان، نمایندگی سازمان ملل متحد در افغانستان، بانک جهانی، بانک انکشاف آسیایی، برنامهٔ انکشافی ملل متحد، برخی سفارتخانه ها، مسؤلین سکتور خصوصی داخلی و خارجی، نهادهای غیردولتی و نمایندگان نهاد های حامی انرژی تجدیدپذیر نیز اشتراک ورزیده بودند. اهداف این کنفرانس، معرفی ظرفیت‌ها و فرصت‌های موجود سرمایه گذاری در سکتور برق افغانستان؛ جذب دوامدار سرمایه گذاران داخلی و خارجی؛ شناسایی مشکلات و ارائهٔ راه حل های مناسب؛ ارتقای دانش تخصصی در سکتور برق؛ همکاری و هماهنگی میان سکتور دولتی، خصوصی و نهادهای بین‌المللی برق‌رسانی و فراهم‌آوری زمینهٔ اتصال منطقه‌ای برق می باشند.

# د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د بندیانو په چارو کې د امریکا د ولسمشر له ځانګړي استازي سره وکتل





د ریاســت الــوزراء اقتصــادي مرســتیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان کال د سنبلې میاشتې په ۲۲مه د بندیانو په چارو کې د امریکا د ولسمشر ډونلډ ټرمپ ځانګړي اســتازي اډم بولر په مشرۍ پلاوي سره چې د افغان سولې لپاره د امریکا متحده ایالاتو پخواني ځانګړي استازي ډاکټر زلمي خلیلزاد یې هم غړیتوب درلود وکتل.

په دې کتنه کې دواړو لورو د افغانســتان او سیمې پر روان وضعیت د بحث ترڅنګ د افغانســتان او امریکا ترمنځ پر دوه اړخیزو ســیاسي او اقتصادي اړیکو هم د نظر تبادله وکړه.

په سر کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د هېواد اقتصادي پرمختګ ته په اشــارې سره وویل چې د اسلامي امارت په راتګ سره اقتصادي وضعیت چې له جدي ګواښ سره مخ و، اوس بېرته مخ په ښــه کېدو دی، اداري فساد نشته، د نشــه يي توکو د کر او قاچاق بشپړ مخنیوی شوی، د بېکارۍ کچه راټیټه شوې او د بهرنیو اسعارو پر وړاندې افغانۍ ثابته پاتې شوې ده.

د ریاســت الــوزراء اقتصادي مرســتیال زیاته کړه، په بانکي سکټور کې پرمختګ رامنځته شوی، د صادراتو ترڅنــګ د وارداتو او ملي عوایدو کچه لوړه شــوې، په کورنیو تولیداتو کې زیاتوالی راغلی، د لویو پروژو چارې پیل شوې، صنعت، سوداګرۍ او ترانزیټ هم پرمختګ کړی دی.


حاجي ملا صاحب پر افغانســتان د امریکا او نړیوالې ټولنې له لوري لګول شــویو بندیزونو ته په اشارې سره وویل چې افغانســتان په ځینو برخو کې اوس هم لکه څنګــه چې اړتیا وه هماغســې پرمختګ نه دی کړی. لامل یې د امریکا او نړیوالې ټولنې له لوري په

افغانستان اقتصادي بنديزونه دي.
محترم ملا عبدالغني برادر اخوند همدا راز وويل، د اقتصاد محوره متوازن بهرني سياست په غوره کولو سره پر دې توانيدلي چې له ځينو هېوادونو سره ښې سياسي او اقتصادي اړيکي ولري.
د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال په افغانستان کې د پانګونې د جذب له پاره د اسانه قوانينو جوړولو يادونه هم وکړه او وويل، د پانګونې جذب لپاره اسانه قوانين جوړ شوي او د شرعي اصولو په رڼا کې د هر چا حق او غوښتنې ته رسېدنه کيږي.
محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زياته کړه د برېښنا، کانونو، زراعت، ترانسپورت، زېربناوو، مخابراتو، ټيکنالوژۍ او روغتيا ترڅنګ په ګڼو نورو سکټورونو کې پانګونه د افغانستان اړتيا ده او اسلامي امارت په دې برخه کې د کورنيو پانګوالو ترڅنګ بهرنيو پانګوالو ته هم د پانګونې زمينه برابره کړې ده. د حاجي ملا صاحب په خبره افغانستان پراخې طبيعي زيرمې لري او په دې برخه کې د پانګونې له پاره ښه زمينه برابره شوې ده. د باميانو د حاجي‌ګک اوسپنې کان، د کټواز او هلمند نفتي حوزې، د هرات نفتي حوزه او نادره کانونه دپانګونې له پاره ښه فرصتونه دي.
د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال وويل چې په افغانستان کې د سړکونو، اوسپنې پټلۍ او ترانسپورټي ترمينلونو جوړولو، د ساختماني، کرنيزو محصولاتو، درملو، خوراکي توکو، لاسي صنايعو، سيمه ييز اتصال او بانکوالۍ په برخه کې هم پانګونې ته زمينه برابره شوې ده.
حاجي ملا صاحب زياته کړه چې د پانګوالو له پاره د اسانتياوو رامنځته کولو په موخه بين الوزارتي کميټه جوړه شوې او دنده يې داده چې کورنيو او بهرنيو پانګوالو ته په بشپړ ډول اسانتياوې رامنځته کړي. دغه راز د اقتصادي پرمختګ له پاره مشورتي اقتصادي بورډ جوړېږي او د افغانستان پنځه کلنې ملي پراختيايي ستراتيژۍ پر جوړولو هم عملا کار روان دی.
د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له امريکايي پلاوي وغوښتل چې امريکا دې په افغانستان کې د تقابل پر ځای تعامل ته مخه کړي، د افغانستان په بيارغونه کې دې خپل رول ولوبوي او مختلفو سکټورونو کې دې د پانګونې له شته فرصتونو څخه ګټه پورته کړي.
وريسې د بنديانو په چارو کې د امريکا د ولسمشر ځانګړي استازي ادم بولر خبرې وکړې او ويې ويل چې امريکا او افغانستان د دوحې تړون په ښه ډول عملي کړی او له دې تړون څخه هېڅ لوري سرغړونه نه ده کړې. نوموړي په افغانستان کې په اقتصادي برخه کې شوي اقتصادي پرمختګونه وستايل او د امريکا او افغانستان ترمنځ يې د اړيکو پر لا پراختيا او تعامل ټينګار وکړ.
ادم بولر په افغانستان او امريکا کې د بندي اتباعو موضوع ته په اشارې سره وويل چې دواړه هېوادونه به خپل زندانيان تبادله کړي. امريکايي پلاوي په افغانستان کې د اقتصاد په برخه کې خپله همکاري په ډاګه کړه او ويې ويل چې دوی چمتو دي په افغانستان پانګونه وکړي.

# پروژه‌های آماده سرمایه‌گذاری در تولید برق خورشیدی

امارت اسلامی افغانستان فرصت‌های بسیار خوبی را برای سرمایه‌گذاری در بخش‌های مختلف فراهم کرده است. همه سرمایه‌گذاران داخلی و خارجی می‌توانند با اطمینان کامل در این بخش‌ها سرمایه‌گذاری کنند. امارت اسلامی برای شان اطمینان هر نوع همکاری و حمایت را میدهد.

| شماره | موقعیت پروژه | ظرفیت (میگاوات) |
|---|---|---|
| ۱ | دایکندی | ۵ |
| ۲ | غور | ۵ |
| ۳ | فراه | ۵ |
| ۴ | ارزگان | ۵ |
| ۵ | پکتیکا | ۵ |
| ۶ | زابل | ۵ |
| ۷ | هلمند | ۵ |
| ۸ | کنر | ۵ |
| ۹ | بامیان | ۵ |
| ۱۰ | غزنی قرباغ | ۵ |
| ۱۱ | غزنی مقر | ۵ |



@FDPM_AFG fdpm_afg dpmea.gov.af



د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال

# سفـــرونه



## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند
# د سالنگونو لويې لارې له کاري بهير څخه ليدنه وکړه

د رياســـتالوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د سنبلې مياشـــتې په نهمه نېټه د سالنگونو لويې لارې له کاري بهير څخه ليدنه وکړه.

د رياستالوزراء اقتصادي مرســـتيال د ټولګټو وزارت او قـــراردادي شرکتونـــو له ترسره شـــوو کارونو ســـتاينه وکړه او هغوی ته يې سپارښتنه وکړه، څـــو د کيفت په پام کې نيولو سره د پلان شـــوي برخې کارنه د ژمي تر را رســـېدو مخکې بشپړ کړي.

د ټولګټو وزارت او قراردادي شرکتونو مسوولينو د رياستالوزراء اقتصادي مرستيال ته ډاډ ورکړ، چې د ټولـــو معيارونو پـــه پام کـــې نيولو سره د سالنگونو لويې لارې کارونه دوام لري او ژمن دي، چې د روان کال لپاره پلان شوي کارونه به د ژمي تر را رسېدو مخکې بشپړ کړي.

اوســـمهال د ســـالنگونو لويـــې لارې د جنوبي ســـالنگ د ۱۰مې تـــر ۱۵مې گالـــرۍ پورې د بيارغونې کارونه بشپړ شوي، چې په مجموع کې د جنوبي سالنگ کارونه ۵۵ سلنه پرمخ تللي دي. په يادو تکميل شـــوو گالريو بانـــدې په خورا لوړ کيفيت ۸۵ ســـانتي متره کانکرېټ اچول شـــوی دی. پـــه ورته وخـــت کې د شمالي ســـالنگ د بيارغونې کارونه هم په چټکۍ سره روان دي.



# د غوري سيمنټو د دريېمې فابريکې د جوړېدو چارې پيل شوې

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د سنبلې په نهمه نېټه په بغلان ولايت کې د غوري سيمنټو د دريېمې فابريکې د جوړېدو چارو د پيل پرانيسته وکړه. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال په هېواد کې د ننه د سيمنټو توليد او په دې برخه کې خودکفايي ته د رسېدو لپاره د دې فابريکې پرانيستل مهم وبلل او ويې ويل، صنعتي کېدل د هر هېواد د لويو اهدافو په سر کې قرار لري؛ هغه هېوادونه چې په مختلفو برخو کې توليدي فابريکې لري، نه يوازې په کور د ننه د هېوادوالو اړتياوې پوره کوي؛ بلکې د اضافي توليد له امله صادرات هم کوي. محترم ملا صاحب زياته کړه، توليدي فابريکې د هېواد د ملي توليد او ملي عوايدو په لوړېدو او د ملي اقتصاد په پياوړتيا کې اساسي رول لري. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زياته کړه، د غوري سيمنټو د دريېمې فابريکې د توليد په پيل سره به د هېواد د سيمنټو اړتيا لويه برخه په کور دننه پوره شي، صنعت به پراختيا پيدا کړي، له هېواد څخه به د اسعارو وتلو مخنيوی وشي، د ودانيزو چارو په تسهيل او تسريع او د سيمنټو په نرخ کې به ثبات رامنځته شي، ډېرو هېوادوالو ته به کار پيدا او په لويه کې به د صنعتي افغانستان پر لور مهم گام واخيستل شي. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال وويل، افغانستان تر ډېره پر بهرنيو وارداتو متکي دی او د ملي بوديجې زيات رقم هم د وارداتو په مقابل کې ورکول کېږي، په داسې حال کې چې له بهر واردېدونکي توکي له يوې خوا قيمته تماميږي او له بلې خوا پايداره او ډاډمنه سرچينه نه گڼل کېږي. د هغه په خبره، د هېواد په داخل کې د توليد دا ډول فابريکې کولی شي، چې په تدريجي ډول پر بهرنيو وارداتو د هېواد اتکا راکمه او د يو توليدي افغانستان پر لور اساسي گامونه واخيستل شي. په پای کې د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د غوري سيمنټو د دريېمې فابريکې له مسوولينو وغوښتل څو د يادې فابريکې چارې له منل شوو معيارونو سره سمې په پوره صداقت پرمخ بوځي او له هر ډول کاري او تخنيکي غفلت څخه ډډه وکړي. د يادونې وړ ده چې د غوري سيمنټو پر دريېمې فابريکې ۸۶.۸ ميليون ډالر لگښت راځي چې د جوړېدو چارې به يې په ۱۸ مياشتو کې د ملي پراختيا شرکت له لوري بشپړې شي. د غوري سيمنټو فابريکه به د دريېمې فابريکې د چارو په بشپړېدو سره په ۲۴ ساعتونو کې د ۵۰۰۰ ټنه سيمنټو د توليد وړتيا پيدا کړي.

# د تخار ولایت سپین زر سوداګریز ښارګوټي د جوړېدو چارې پیل شوې

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د سنبلې په لسمه نېټه په تخار ولایت کې د تخار سپین زر سوداګریز ښارګوټي د جوړېدو چارو پرانیسته وکړه. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په پیل کې په مشرقي ولایتونو کې د زلزلې له امله شهیدانو ته د جنت او ټپیانو ته د عاجلې شفاء دعا وکړه او د هغوی کورنیو ته یې تسلیت وړاندې کړ. محترم ملا صاحب ځان له زلزله ځپلو کورنیو سره په دې غم کې شریک وباله او ویې ویل، د اسلامي امارت ټول اړوند مسوولین لاس پکار دي او له شته امکاناتو څخه په کار اخیستو یې د پېښې سیمو ته رسېدنه کړې ده. وروسته د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د تخار ولایت د سپین زر سوداګریز ښارګوټي د جوړېدو چارو پرانیست‌غونډې ته وویل، د عامه سکتور ترڅنګ د خصوصي سکتور له لوري په هره کچه پانګونه د هېواد د اقتصادي ودې مهم جز جوړوي او د افغانستان اسلامي امارت یې ملاتړ کوي. محترم ملا صاحب په هېواد کې د پانګونې ارزښت ته په اشارې سره وویل، په خدماتي او تولیدي اساساتو کې پانګونه د هېواد د اقتصادي رشد او پراختیا له اساسي عواملو څخه ګڼل کېږي. هغه زیاته کړه، پانګونه تولیدي ظرفیتونه او صادرات زیاتوي، صنعت ته پراختیا ورکوي، کاري فرصتونه رامنځته کوي او په ټوله کې ورسره د هېواد عاید زیاتیږي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په تخار ولایت کې د دې لوی سوداګریز ښارګوټي جوړېدل مهم وبلل او ویې ویل، چې دا به د هېوادوالو پر اقتصادي او ټولنیزه هوساینه مثبت اغېز ولري. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د اسلامي امارت له لوري ټولو سوداګرو او پانګوالو ته ډاډ ورکړ، چې ستونزو ته به یې په وخت رسېدنه کېږي او په ټولو برخو کې به ورسره لازمه همکاري کوي. د یادونې وړ ده چې د تخار ولایت سپین زر سوداګریز ښارګوټي کې د غله جاتو، میوه جاتو، پیاز او کچالیو، ساختماني توکو او درملو سوداګریز مارکېټونه په پام کې نیول شوي، چې ټولټال پرې د عامه خصوصي مشارکت له لوري دوه میلیارده ۴۵۰ میلیونه افغانۍ پانګونه کېږي. دغه ښارګوټی په ۶۰ جریبه ځمکه کې جوړېږي، چې د پنځو مارکېټونو له جملې یې د غله جاتو مارکېټ ګټې اخیستنې ته وسپارل شو او د پاتې څلورو مارکېټونو د جوړېدو چارې یې پیل شوې. د تخار ولایت سپین زر سوداګریز ښارګوټی به په مجموعي ډول تر دوه زره زیات دوکانونه ولري، چې زرګونو هېوادوالو ته به کاري زمینه هم برابره کړي.

همداراز محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په تخار ولایت کې د خصوصي سکټور له لوري د موټرو د خرڅلاو، موټرو مینځلو، د نجارۍ دوکانونو او د ساختماني شرکتونو د دفترونو پروژې د جوړېدو چارو پرانیسته هم وکړه. پر دې پروژه ۱۸۰ میلیون افغانۍ پانګونه کېږي.



## با سرمایه‌گذاری ۶٫۳ میلیارد افغانی، کار اعمار مارکیت‌های تجارتی سپین زر کندز آغاز شد

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند، معاون اقتصادی ریاست الوزراء، به تاریخ دهم سنبله ۱۴۰۴ خورشیدی، در ولایت کندز کار اعمار مارکیت‌های تجارتی سپین زر کندز را افتتاح نمود. معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء در آغاز، برای شهدای زلزله ولایات شرقی، بهشت برین، برای مجروحین شفای عاجل استدعا نموده و به خانواده‌های ایشان تسلیت عرض کرد.

محترم ملا صاحب خود را در این غم با خانواده‌های زلزله زده شریک دانست و افزود که تمام مسؤلین مربوطه امارت اسلامی به‌صورت فوری با استفاده از امکانات موجود به ساحات اسیب دیده رسیدگی کرده‌اند.

پس از آن معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء در مراسم افتتاح مارکیت‌های تجارتی سپین زر کندز اظهار داشت که سرمایه‌گذاری از سوی سکتور خصوصی در کنار سکتور عامه، جز مهم رشد اقتصادی کشور را تشکیل می‌دهد.

حاجی ملا صاحب افزود، سرمایه‌گذاری باعث افزایش تولید ناخالص داخلی و صادرات می‌گردد، صنعت رشد می‌کند و در مجموع عواید کشور بلند می‌رود که این امر تأثیر مثبت بر رفاه اجتماعی دارد.

معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء اعمار سه ساختمان تجارتی در ولایت کندز از طریق مشارکت عامه و خصوصی را مهم خوانده، از شرکت‌های مربوطه خواست که فعالیت‌های خود را با درنظر داشت تمامی معیارها، با صداقت و شفافیت کامل انجام دهند.

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند از جانب امارت اسلامی به تمامی تاجران و سرمایه‌گذاران اطمینان داد که به مشکلات آنان به‌موقع رسیدگی خواهد شد و در تمامی عرصه‌ها با آنان همکاری لازم صورت می‌گیرد.

قابل یادآوریست که در این پروژه‌ها، اعمار مرکز بین المللی تجارتی سپین زر با سرمایه‌گذاری پنج میلیارد و ۴۲۶ میلیون افغانی در زمین به مساحت ۶۳ جریب طی سه سال، اعمار مارکیت تجارتی سیمساری با سرمایه گذاری ۳۰۰ میلیون افغانی در دو جریب زمین طی یک سال و اعمار مارکیت فروش ظروف و لوازم برقی با سرمایه گذاری ۵۷۶ میلیون افغانی در دو جریب زمین طی یک سال شامل می‌باشد.

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د دښتې لیلې
## د شهیدانو ارواح ته دعا وکړه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د هېواد شمالي ولایتونو ته د خپل سفر پر مهال د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د سنبلې میاشتې په یوولسمه نېټه په جوزجان ولایت کې د دښتې لیلې د شهیدانو مزار ته ورغی او د هغوی سپېڅلې ارواح ته یې دعا وکړه.

محترم ملا صاحب د دښتې لیلې د شهیدانو قربانۍ نه هېرېدونکې وبللې او ویې ویل، د اسلامي نظام د اقامې په لاره کې د هغوی قرباني بې ساري دي او اسلامي امارت به د هغوی د ارمانونو پوره کولو لپاره پوره هڅه وکړي.

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مسلکي ډول
## د بلخاب ډبرو سکرو کان د استخراج پرانیسته وکړه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د هېواد شمالي ولایتونو ته د خپل سفر پرمهال د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د سنبلې میاشتې په یوولسمه نېټه د سرپل ولایت په بلخاب ولسوالۍ کې په مسلکي ډول د بلخاب ډبرو سکرو کان د استخراج او د کانونو ترمنځ د نښلېدونکو سړکونو پرانیسته وکړه. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په همدې مناسبت د بلخاب ډبرو سکرو کان کې جوړو شوو مراسمو کې وویل، افغانستان د بېلابېلو طبیعي زېرمو له اړخه غني هېواد دی او دغه زېرمې د اوږدمهاله زېربنایي پروژو د تمویل، د صنعتي پرمختګ او د ملي عوایدو د سترې سرچینې په توګه له اساسي او ستراتیژیک ارزښت څخه برخمنې دي، چې په مسلکي استخراج سره به یې د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ پر لور چټک ګامونه واخلو.

محترم ملا صاحب زیاته کړه، په هېواد کې له موجودو طبیعي زېرمو څخه د اعظمي استفادې په موخه باید یوازې د خامو موادو پر صادراتو اکتفاء ونه کړو؛ بلکې د هېواد دننه د پروسس او تولید فابریکې جوړې کړو ترڅو کاري فرصتونه زیات او داخلي صنعت قوي کړو. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، د بلخاب ډبرو سکرو کاني حوزه د هېواد له مهمو او غني زېرمو څخه ده، چې د ملي پراختیا شرکت له لوري یې د استخراج پروسه تر دې دمه ښه روانه ده. هغه زیاته کړه، د ملي پراختیا شرکت د دغه کان د استخراجي چارو د تسهیل او تسریع په موخه له ۲۰۰ کیلومتره زیات سړکونه په معیاري توګه جغل اندازي کړي، چې د بلخاب ولسوالۍ د ډبرو سکرو کانونه یو له بل سره

نښــلوي. د هغه په خبره، په دې سره بــه کارګران او قــراردادي شرکتونه د کان کيندنې چارو ته په ســمه توګه رســېدنه وکړای شي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ملي پراختيا شرکت لــه هڅو مننه وکړه او له هغوی يې وغوښـــتل چې د اســتخراج چارې لا ډېرې معياري، له هر ډول ضايعاتو څخه مخنيوی ترسره او د چاپېريال ساتنې معيارونه په پام کې ونيسي. همداراز محترم ملا صاحب د بلخاب ولســوالۍ اوسېدونکو ته ډاډ ورکړ چې د دوی د اړتيا وړ د ډبرو سکاره به په کم قيمت دوی ته ورکول کېــږي او همداراز به دوی ته د سړکونو، روغتونونو او نورو برخو کې هم ټولنيز خدمات لا زيــات شي. په پای کې محترم حاجي ملا صاحب د سرپل والي او ځايي مسوولينو ته لارښوونه وکړه چې

وخت په وخت د بلخاب له ولســـونو سره ناستې وکړي، د هغوی ســتونزې واوري او د حل هڅې يې وکړي. د يادونــې وړ ده چې د ملي پراختيــا شرکت له لوري د بلخاب ډبرو سکرو د مسلکي اســتخراج لپاره شاوخوا ۱۰۰ صوفونه کيندل شوي، چې اوسمهال پکې له دوه زره زيات هېوادوال په مستقيم ډول په کار مصروف او په کلني ډول ترې ۵۰۰ زره ټنه سکاره استخراجيږي. له دې کان څخه اســتخراج شوي د ډبرو سکاره به په کورنيــو فابريکو کــې د انرژۍ توليــد او د صنعت د پراختيا ترڅنګ د هېــواد واردات هم زيات کړي او د کاري فرصتونو په زياتولو سره به د بې‌وزلۍ کچه راټيټه او په لويه کې به د هېواد اقتصاد ورسره پياوړی شي.



# د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د کونړ له زلزله ځپلو سره د غمشریکۍ په موخه یاد ولایت ته سفر وکړ

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان کال د سنبلې په ۲۱مه د کونړ له زلزله ځپلو او د زلزله ځپلو سیمو د لیدنې په موخه یاد ولایت ته سفر وکړ. په دې سفر کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال سره د ننگرهار او کونړ والیانو، د سرې میاشتې عمومي رییس شیخ شهاب الدین دلاور او له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملي ادارې رییس ملا نورالدین ترابي او یو شمېر مسوولینو ملتیا کوله. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال له زلزله ځپلو سره د لیدنې پرمهال په دې ستر ناورین خپله خواشیني وښوده، په زلزله کې د شهیدانو پاک روح ته یې دعا او ټپیانو ته یې د عاجلې روغتیا هیله وکړه. محترم ملا عبدلغني برادر اخوند د اسلامي امارت په استازیتوب په دې ستر غم کې ځان شریک وباله او ویې ویل، په تیرو څلورو کلونو کې دا دریم ځل دی چې د سختو زلزلو له امله هیوادوالو ته درانه مالي او ځاني زیانونه اوړي. حاجي ملا صاحب زیاته کړه، د امکاناتو د محدودیت باوجود اسلامي امارت پر دې توانیدلی چې پر وخت د زیانمنو لاسنیوی وکړي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د کونړ زلزله ځپلو ته ډاډ ورکړ چې اسلامي امارت د دوی ترڅنگ ولاړ دی. د حاجي ملا صاحب په وینا، دوی ټولو امارتي مسوولینو ته هدایت کړی چې مرستې را ټولې او په شفاف ډول یې پر مستحقو زیانمنو وویشي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د هیواد په سوداگرو، پانگوالو او خیریه بنسټونو غږ وکړ چې د کونړ له زلزله ځپلو سره خپلې مرستې جاري وساتي. دغه راز حاجي ملا صاحب د زلزلې له امله د زیانمنو سیمو د بیارغونې له پاره ترلاس لاندې اړینو پلانونو ته په اشارې سره وویل، هڅه کوي چې په زلزله کې د ورانو شویو کورونو د بیرته رغولو له پاره امکانات برابر او په راتلونکي کې د طبیعي پیښو د زیان کچې را کمیدو له پاره هر اړخیز تدابیر ونیسي. اقتصادي مرستیال له ټولو هغو هیوادونو، هیوادوالو، ملي سوداگرو او خیریه بنسټونو د مننې ترڅنگ چې د کونړ له زلزله ځپلو سره یې مرستې کړې، پر نړیواله ټولنه غږ وکړ چې په دې سختو شرایطو کې دې پر افغانستان لگیدلي بندیزونه پای ته ورسوي، څو زیانمنو افغانانو ته د مرستو رسولو او اقتصادي ستونزو ته د رسیدنې بهیر پر وړاندې شته خنډونه له منځه ولاړ شي. په پای کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د سوداگرۍ خونې د مشرتابه پلاوي له لوري د کونړ له زلزله ځپلو سره ۲۰ میلیونه افغانۍ، د سوداگرۍ خونې او یما پترولیم شرکت رئیس سید کریم هاشمي او د اختریان شرکت رئیس حاجي کمال الدین له خوا پنځوس پنځوس زره ډالر مرسته وشوه.





# مقالي

## د اقتصادي موضوعاتو اړوند :

# د ترانسپورټ، کرنې او سوداګرۍ په برخــه کې پيل شــوې پروژې

**نجیب‌الله مایار**



په دې لیکنــه کې پــه تېرو ځلورو کلونو کې په افغانستان کې د ترانســپورت او کرنې په برخو کې د پیل شویو پروژو په اړه بحث شوی دی.

## د ترانسپورټ سکتور



### د ارغندۍ ـ دوراني سړک پخول

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د کابل-کندهار لویې لارې له ارغندۍ څخه تر دوراني بازار پورې سړک د قیر اچونې چارو پروژه د ۱۴۰۲ کال د سرطان په ۲۴ مه پرانیستل شوه. د کابل-کندهار لویې لارې د بیارغونې چارې په ۷ برخو وېشل شوې وې، چې له ارغندۍ تر دوراني بازار پورې سړک یې ۲۷ کیلومتره اوږدوالی، ۱۱ متره پلنوالی او د ۵۰ او ۸۰ مترو په اوږدوالي دوه لوی پلونه او ٦۰ پلچکونه لري. دغه پروژه اوسمهال بشپړه او ګټې اخیستنې ته وړاندې شوې ده چې مسافرو، د سوداګریزو توکو د انتقال او د دې لارې په اوږدو کې یې د کوچنیو کاروبارونو په پیدا کولو کې د پام وړ مثبت رول لوبولی دی.

### د سالنګونو بیا رغونه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د سالنګونو لویې لارې د بیارغونې چارو پروژه د ۱۴۰۲ لمریز کال د سرطان میاشتې په ۲۱مه نېټه پرانیستل شوه. د سالنګونو د بیارغونې پروژه په شمالي او جنوبي سالنګونو کې د افغانستان اسلامي امارت په ملاتړ د خصوصي سکټور له لوري د ۸۰ کیلومتره په اوږدوالي سره بشپړه شوې ده او د نورو برخو د بیارغونې کارونه یې عملاً دوام لري. د سالنګونو لویې لارې په واسطه د هېواد پر ۹ شمالي ولایتونو سربېره ځلور لوی سوداګریز بندرونه له مرکز کابل سره نښلي. په دغه لویه لار په ورځني ډول زرګونه مسافر وړونکي او بار وړونکي موټر تګ راتګ کوي. په هېواد کې د لویو لارو او په ځانګړې ډول د سالنګونو په بیارغېدو سره د افغانستان سوداګري او د افغانستان له لارې له مرکزي آسیا څخه سویلي آسیا ته د ترانزیټ په کچه کې د پام وړ زیاتوالی راغلی دی.

### د هرات ـ غور سړک

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په لسمه نېټه د هرات – غور سړک د جوړولو چارو د پیل پرانیسته وکړه. دغه سړک د افغانستان له مهمو ملي او لویو پروژو څخه دی، چې د ځمکنې ترانسپورټ له لارې هرات، غور، بامیان، دایکندي او میدان وردګ ولایتونه له کابل سره نښلوي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، د دغه ترانسپورټې دهلېز په مسیر کې د مالګې او مرمر ډېرو کانونه هم شته چې

بشــپړېدل به يې د ســوداګرۍ د پراختيا او سيمه‌ييز ترانزيټ په برخه کې مهم رول ولوبوي.

## کابل ښار کې د سړک د درېيو پروژو پيل

د رياســـت‌الوزراء اقتصـــادي مرســـتيال مـــحترم ملا عبدالغنـــي برادر اخوند له لوري د ۱۴۰۳ لمريز کال د ثور مياشتې په اتمه نېټه د خيرخانې کوتل سړک دوهم لاټ، له شـــهيد څلورلارې تر قصبې پورې د غځېدلي ســـړک لومړۍ برخه او د هوايي ډګر له څلورلارې بيا تر ګمرک پورې د غځېدلي سړک جوړولو پروژې پرانيستل شوې. د خيرخانې کوتل سړک دوهم لاټ ۲۵۲۰ متره اوږدوالـــی او ٦۰ متره پلنوالی لري چې چارې به يې د ۳٦۴ ميليون افغانيو په لګښت سره په ۲۰ مياشتو کې بشـــپړه او ګټې اخيستنې ته وســـپارل شي. له شهيد څلورلارې تر قصبې پورې د غځېدلي ســـړک د لومړۍ برخـــې پروژه ۱۸۹۰ متره اوږدوالی او ۴۵ متره پلنوالی لري، چې ټولټال پرې ۱۷۵ ميليونه افغانۍ لګښـــت او په يو کال کې ګټې اخيســـتنې ته ســـپارل کېږي. د هوايي ډګر له څلورلارې بيا تر ګمرک پورې د غځېدلي ســـړک پروژه ۲۷۹۴ متره اوږدوالی او ٦۰ متره پلنوالی لري، چې ۴۰۷ ميليونه افغانۍ لګښـــت پرې راځي او ټاکل شوې چې په ۲۰ مياشتو کې به يې چارې بشپړې او ګټې اخيستنې ته به وسپارل شي. اوسمهال د يادو پروژو کارونه تر ډېره بريده پرمخ تللي دي.

## د کابل - غزني دويم لين سړک

د رياســت الوزراء اقتصـــادي مرســـتيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د ۱۴۰۳ لمريز کال د سنبلې مياشتې په ۲۰ مه نېټه له کابل څخه د ميدان وردګو ولايت د ســـيدآباد ولســـوالۍ تر ټوپ دښـــتې ســـيمې پورې د دوهم سړک د لومړي او دوهم فاز کار پيل شـــو. له کابل څخه تر غزني پـــورې د دوهم لين سړک ۱۱۱ کيلومتره اوږدوالی لري چې په اوږدو کې يې ۹ لوی پلونـــه او ۵۹۴ پلچکونه موجود دي. د دې پروژې کارونه اوسمهال تر ډېره پورې مخته تللي چې په ټاکلي وخت به يې پاتې چارې هم بشـــپړې شي. د يادونې وړ ده چې د کابل – غزني د دويم لين ســـړک پر پروژه اوســـمهال په څلورو نقطو کې کار روان دی، چـــې د کيندنې، ډکولو او پولونـــو او پلچکونو جوړولو چارې يې تر ډېره مخته تللې دي.

## د کابل - جلال آباد لويې لارې دوهم لين سړک

د رياســـت الوزراء اقتصادي مرســـتيال محترم ملا عبدالغنـــي بـــرادر اخونـــد ۱۴۰۳ لمريـــز کال د عقرب مياشـــتې پـــه پنځمه نېټـــه د کابل – جلال اباد لويې لارې د دوهم لين سړک د جوړولو چارو پرانيســـته وکړه. د کابل ـ جلال ابـــاد دوهم لين ســـړک چې شـــاوخوا ۱۵۰ کيلـــو متره اوږدوالی لري، د کابل بګراميو ولســـوالۍ څخه پيل د کابل ولايت خاکجبـــار، د ننګرهار ولايـــت د حصارک، خوګيانيو او سرخرود ولســـواليو څخـــه له تېرېدو وروســـته د ننګرهار د حلقوي ســـړک سره نښلول کېږي. د دغه ســـړک د لومـــړي فاز د لومړي لاټ چـــې ۲۲ کيلومتـــره اوږدوالی لري، د اســـاسي جوړونې چارې پيل شوې دي.

## د ارغندی ترانسپورتي ترمینل

د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ۱۴۰۴ لمریز کال د وري میاشتې په دربیمه نېټه د کابل ولایت پغمان ولسوالۍ د ارغندی ترانسپورتي ترمینل د چارو د پیل پرانیسته وکړه. د ارغندی ترانسپورتي ترمینل چې ۴۲ مهم تاسیسات لري په شاوخوا ۹۰۰ جریبه ځمکه کې د یو میلیارد او ۲۸۵ میلیونو افغانیو په لګښت جوړېږي، چې چارې به یې د خصوصي سکټور له لوري په دوو کلونو کې بشپړې شي. د دغه ترمینل په جوړېدو سره به ترانسپورتي اسانتیاوې زیاتې شي، د انتقال اړوند چارو په چټکتیا او غوره تنظیم کې به مهم رول ولوبوي، ترانسپورتي لګښتونه او ترافیکي ستونزې به کمې او ډېرو هېوادوالو ته به د کار زمینه هم برابره شي. د دې پروژې چارې اوسمهال له پلان سره سمې په ډېر ښه ډول روانې دي.

# د کرنې سکتور

## نهر سراج کانال

د هلمند په سنګین ولسوالۍ کې د نهر سراج کانال د لومړي پړاو د جوړولو چارې د ۱۴۰۴ لمریز کال د سرطان په ۱۱ مه نېټه پیل شوې. دا کانال د ملي پراختیا شرکت له خوا جوړېږي. د دې پروژې ټولیز لګښت ۲۷۵ میلیونه او ۸۸۷ زره افغانۍ اټکل شوی، چې له هلمند او موسیقلعه سیندونو څخه تغذیه کېږي. دا کانال په یوه ثانیه کې ۱۸ متر مکعبه اوبه لېږدوي او د ۲۴ زره هکتاره کرنیزې ځمکې د خړوبولو وړتیا لري. د دې پروژې د تطبیق چارې د ملي پراختیا شرکت له لوري او د تمویل چارې یې د اوبو او انرژۍ وزارت له لوري پرمخ وړل کېږي.

## سرخاب بند

د لوګر ولایت د سرخاب بند د ساتنې او مراقبت پروژه بشپړه او د ۱۴۰۳ لمریز کال د کب په میاشت کې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه. په دې پروژه ۱۱ میلیونه افغانۍ لګښت راغلی دی. د سرخاب ذخیروي بند د لوګر ولایت په محمد آغې ولسوالي کې موقعیت لري، چې د ۲۵ مترو په لوړوالي او ۱۳۵ مترو په اوږدوالي سره د ۹ میلیون متر مکعب اوبو د ذخیره کولو وړتیا لري او شاوخوا درې زره هکتاره کرنیزه ځمکه خړوبوي. د دغه بند د ساتنې او مراقبت پروژې چارې د اوبو او انرژۍ وزارت له خوا بشپړې شوې دي. پر یادو پروژو سربېره د هېواد په سلګونو ولسوالیو کې د اوبو مدیریت او کرنې د پیاوړتیا په موخه سلګونه چک‌ډیمونه هم جوړ شوي، چې تر ۹۰ سلنه زیات یې بشپړ شوي او د کم شمېر چک ډیمونه چارې یې اوس هم دوام لري.

stating that investment enhances productive capacities, increases exports, expands industry, generates employment, and overall contributes to economic growth and state revenues.

The Takhar Spin Zar Commercial Township includes planned markets for grains, fruits, onions and potatoes, construction materials, and pharmaceuticals. The project is being implemented through public-private partnership with a total investment of 2.45 billion AFN. It is being built on 60 jeribs of land, with the grain market already inaugurated for use while construction of the remaining four markets has begun. Once completed, the township will contain over 2,000 shops, creating employment opportunities for thousands of citizens.

Later that Monday afternoon, the Deputy PM and his delegation proceeded to Kunduz Province, where he inaugurated the Spin Zar Commercial Markets. He described the construction of three commercial buildings in Kunduz through public-private partnership as significant, noting that it would positively impact the region's social welfare. He called on the companies involved to carry out their activities honestly, transparently, and in full compliance with standards. The Kunduz Spin Zar Commercial Markets involve an investment of 6.3 billion AFN through public-private partnership, with works scheduled for completion within two years.

On the third day of the visit, Tuesday, September 2, 2025, the Deputy PM inspected the Kokcha River and later visited the Dasht-e-Leili Martyrs' Cemetery in Jowzjan Province. He prayed for the souls of the martyrs and described their sacrifices for the establishment of the Islamic system as unforgettable and unparalleled.

On Tuesday evening, the Deputy PM and his delegation traveled to Balkhab District of Sar-e-Pul Province, where he officially inaugurated the Balkhab Coal Mine. Speaking at the ceremony, the Deputy PM stated that Afghanistan is rich in natural resources, which carry fundamental and strategic value as sources of financing long-term infrastructure projects, supporting industrial development, and contributing significantly to national revenues. He stressed that with professional extraction, these resources can drive rapid economic and social progress. He identified the Balkhab coal deposit as one of the country's important and rich reserves, noting that professional extraction by the National Development Corporation had already commenced.

Deputy PM Mullah Baradar Akhund commended the efforts of the National Development Corporation and urged them to further improve standards, prevent waste, and fully observe environmental protection requirements. He also assured the residents of Balkhab District that they would be provided with coal at highly affordable prices and that additional social services in areas such as roads and healthcare would be extended to them.

Currently, the National Development Corporation has excavated approximately 100 mining tunnels in the Balkhab Coal Mine, employing around 2,000 citizens directly. The mine's annual extraction capacity is estimated at 500,000 metric tons. Coal extracted from this mine will be used in domestic industries for energy generation and industrial growth, while also reducing imports, creating employment, alleviating poverty, and strengthening the national economy.

Following his four-day visit to the northern provinces, the Deputy PM for Economic Affairs, Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund and his delegation returned to Kabul on Wednesday, September, 4, 2025.



# FOUR-DAY VISIT
## OF MULLAH ABDUL GHANI BARADAR AKHUND
## TO THE NORTHERN PROVINCES

On Sunday morning, August 31, 2025, the Deputy PM for Economic Affairs, Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, departed Kabul for an official visit to the northern provinces. He was accompanied by the Governor of Da Afghanistan Bank, Noor Ahmad Agha, the Director General of State-Owned Enterprises, Mawlawi Ahmad Jan Bilal, and several other officials.

During this visit, at midday on Sunday, Deputy PM Mullah Baradar Akhund inspected the construction works along the Salang Highway. He praised the efforts of the Ministry of Public Works and the contracting companies and stressed the need to complete all planned works for this year before the onset of winter. At present, reconstruction works between the 10th and 15th rock fall barriers of the Southern Salang have been completed, while works on the remaining sections are proceeding rapidly in accordance with all standards.

Later that Sunday afternoon, the Deputy PM and his accompanying delegation arrived at the Ghori Cement Factory in Baghlan Province, where he inaugurated the construction of the factory's third production unit. The Deputy PM emphasized the importance of this project in boosting domestic cement production and moving towards self-sufficiency in this sector. He stated that this facility will meet a large portion of the country's cement demand domestically and will contribute to the growth of industry. He called on the factory's management to conduct the work with integrity, adhere to accepted standards, and avoid any operational or technical negligence. The third Ghori cement plant involves an investment of 86.8 million USD, with construction works to be completed within 18 months by the National Development Corporation. Upon completion, the Ghori Cement Factory will achieve a daily production capacity of 5,000 metric tons of cement.

On the second day of the trip, Monday morning, September 1, 2025, the Deputy PM traveled to Takhar Province, where he inaugurated the Takhar Spin Zar Commercial Township. He highlighted the importance of private sector investment alongside public sector contributions in service and production infrastructure,

| | |
|---|---|
| **Publisher:** | Deputy PM for Economic Affairs Office |
| **Editorial Board:** | Maulvi Abdullah Azzam, Maulvi Zabehullah Nasir, Amanullah Hanifi, Fazal Wali Shirani and Najibullah Mayar |
| **Chief Editor:** | Maulvi Khaliq Dad Taqi |
| **English Translator:** | Sajad Ahmad K. |
| **Graphic Designer:** | Ataurahman Saeid |
| **Photojornalist:** | Hujjatullah Qazizadah |



Marmarin Palace, Malik Asghar Square, Kabul

0202107500

media@dpmea.gov.af

dpmea.gov.af



**Please provide proper attribution when using content from this magazine.**